ستا ژبه دې تل د الله په ذکر لمده وي

د عبدالله بن بسر رضي الله عنه نه روايت دی وايي چې: يو سړی نبي صلی الله عليه وسلم ته راغی او ويې ويل: "ای د الله رسوله! د اسلام احکام زمونږ لپاره ډېر زيات شوي دي، نو داسې يوه (اساسي) چاره را ته وښيه چې مونږ پرې ټينګ ودريږو او هر څه رانغاړي؟" هغه وويل: «ستا ژبه دې تل د الله په ذکر لمده وي». او د معاذ بن جبل رضي الله عنه له حديث څخه په يو بل روايت کې راځي چې: "وروستی هغه څه چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د جلا کېدو پرمهال (ليدلي و دا و چې) ما وويل: کوم يو عمل تر ټولو غوره او الله ته تر ټولو نږدې دی؟ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «دا چې ته مړ شې، او ستا ژبه د الله جل جلاله په ذکر لمده وي».

[صحيح دی] [احمد، الترمذي، ابن ماجه او ابن حبان روايت کړی دی]

يو سړي رسول الله صلی الله عليه وسلم ته شکايت وکړ چې نفلي عبادتونه پرې زيات شوي دي تر دې چې د کمزورۍ له امله يې نه شي ادا کولای، بيا يې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې داسې يو ساده عمل ته يې لارښوونه وکړي چې اجر يې ډېر وي، نو دی به پرې په دوامداره توګه ټينګار وکړي. نو هغه ته رسول الله - صلی الله عليه وسلم - لارښوونه وکړه چې په هر وخت او حالاتو کې د الله تعالی په يادولو سره خپله ژبه تازه او خوځنده وساتي لکه: تسبيح (سبحان الله) ويل، تحميد (الحمد لله) ويل، استغفار (استغفر الله) ويل او داسې نور.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66541